مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهنمل دوکتوراندوس رحمت څواکمن ۲۰۲۵/۰۸/۰۶

# د ډېنتي یا صحرایي کیدلو اغېزې

## څلورمه برخه

په تیره ( دریمه برخه) لیکنه کې مو د صحرایي کیدلو په عواملو، سببونو یا لاملونو خبرې وکړی. په دې برخه کې به د صحرایي کیدلو په اغېزو او عواقبو یا پایلو رڼا واچوو.
صحرایي کېدل، چې زیاتره د انساني فعالیتونو لکه د څنګلونو وهلو او ښاري پراختیا له امله رامنځ ته کیږي، چاپېریالي، ټولنیز او اقتصادي بدلونونو له ځان سره لري، چې دا بدلونونه بیا په راتلونکی کې د یو زیات شمیر نورو ستونزو سبب کیږي.
ښه به وي چې پر چاپیریالي، ټولنیز او اقتصادي ثبات، د صحرایي کیدلو منفي اغیزې نورې هم راوسپړو.
د صحرایي کېدلو چاپیریالي اغېزې:
- د نباتاتو د پوښښ له لاسه ورکول: صحرایي کېدل کولای شي د نباتاتو د پوښښ له لاسه ورکولو لامل شي، چې پایله یې د خاورې تخریب او د خاورې کیفیت خرابېدل دي.
- د خاورې تخریب: صحرایي کېدل کولای شي د خاورې کیفیت خراب کړي، د خاورې د کیفیت خرابوالی بیا په خپل وار سره په نوموړې اغېزمنه سیمه کې د نباتاتو، څارویو او نورو ژویو لپاره د ژوند کول ستونزمن کوي.
- د بیولوژیکي ډولونو یا رنګارنګی کمېدل: صحرایي کېدل کولای شي د بیولوژیکي تنوع د کمښت لامل یا سبب شي. څکه چې نوموړي ډولونه نشي کولای د بدلیدونکو شرایطو سره ځانونو ته سمون ورکړي او ورسره تطابقت وکړي .
- د هوا په عناصرو کې د بدلونونو لپاره زیان منونکی زیاتوالی: کومې سیمې چې د صحرایي کېدو له امله اغیزمنې کیږي، هغه بیا د هوا په عناصرو یا ترکیب کې د بدلونونو د اغیزو له امله ډیرې زیان منونکې وي، لکه د وچکالی زیاتوالی او د اورښت کمښت.

د صحرایي کېدو اقتصادي اغېزې:
- د کرنیزو محصولاتو له لاسه ورکول: صحرایي کېدل د کرنیزو محصولاتو د له لاسه ورکولو لامل کېدای شي، دا ځکه چې د کرکرو لپاره بیا د کرنیزو فصلونو کرل او د څارویو پالنه ستونزمنه کیږي.
- د اوبو کموالی: صحرایي کېدل د اوبو شتون کمولی شي. د اوبو د کمښت له امله بیا د ټولنو وګړي د ښښاک د پاکو اوبو او په کرنه کې د اړتیا وړ اوبو د ترلاسه کولو له ستونزو سره مخ کیږي
- د ژوندانه د اسبابو یا اسانتیاوو له لاسه ورکول: صحرایي کېدل کولای شي د هغو ټولنو د ژوندانه د اسانتیاوو یا وسیلو د له لاسه ورکولو لامل شي، کومې چې د خپل ژوندي پاتې کیدو لپاره په طبیعي سرچینو تکیه کوي، لکه کرګران او د څارویو روزونکي.
- د بې وزلۍ زیاتوالی: صحرایي کېدل کولای شي د بې وزلۍ د زیاتوالي لامل شي، څکه چې ټولنې د بدلیدونکو چاپیریالي شرایطو او د طبیعي سرچینو د له لاسه ورکولو له امله بیا نه شي کولای، له حالاتو سره د تطابق لپاره سمه مبارزه وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د صحرايي کېدو ټولنيزې اغېزې:
- لالهاند حالت: صحرايي کېدل کولای شي د ټولنو د کډوډۍ لامل شي، ځکه چې زيانمن وګړي اړ وي چې د خوړو، اوبو او سرچينو د لټون لپاره خپل کورونه پرېږدي، کډې بار کړي او و کوچېږي.
- شخړه: د لږو طبيعي سرچينو له امله، بيا د ټولنې د وګړو ترمنځ شخړې رامنځ ته کيږي، ځکه چې هر څوک بيا د خپلو اړتياوو د پوره کولو له امله ډاډ نه لري، په ځانګړي توګه په هغو سيمو کې چې طبيعي سرچينې لا وار دمخه کمې وي.
مهاجرت يا کډوالي: صحرايي کېدل کولای شي د مهاجرت لامل شي، ځکه چې ټولنې د خوړو، اوبو او سرچينو د لټون لپاره کډې کولو ته اړ کيږي. - روغتيايي اغيزې: صحرايي کيدل کيدای شي پر روغتيا هم اغيزه ولري. لکه د خوارځواکۍ رامنځ ته کيدل او نورې ناروغۍ. ځکه چې ټولنې خوړو او پاکو اوبو ته د لاسرسي لپاره له ستونزو سره مخ کيږي.
په ټوليز ډول، صحرايي کيدل د پام وړ چاپيريالي، اقتصادي او ټولنيزې اغيزې لري، په ځانګړې توګه په پرمختيايي هيوادونو کې چيرې چې ټولنې د ژوندي پاتې کيدو لپاره په طبيعي سرچينو تکيه کوي.
د صحرا کيدو د اصلي لاملونو په نښه کول او د ځمکې د کارولو پرله پسې کړنو ته وده ورکول، د نوموړو اغيزو په کمولو او په اغيزمنو ټولنو کې د نرمښت يا انعطاف د رامنځ ته کولو لپاره اړين دي.

نور بيا

سرچينه: green earth

پوهنمل دوکتوراندوس رحمت ځواکمن
۴/ ۸/ ۲۰۲۵- هالند


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ